مالګه مرچکې



# د مطلب کار

سعد الله جان برق

قاضي عبدالحليم اثر دي خدائے پاک په جنتونو کړي ډېر ښۀ سړے ؤ او بيا ما سره خو ئې ډېره مينه وه بلکې ډېر آزاد ؤ راسره. د دې وجې نه به ما کله کله د هغۀ په څۀ تحقيقي انکشاف په خپل کالم کښې ټکونه هم وکړل خو هغه به خفه کېدو نۀ. يوه ورځ ئې د کوئټې په رساله ((اولس)) کښې يو مضمون ما ولوستو چې پکښې ئې د سليمان(ع) هغه ملکه سبا د بلوچستان د سبي اوسېدونکې ثابته کړې وه او په تاريخي اسنادو سره ئې دا ثابته کړې وه چې ملکه سبا د سبي وه او دا د سبي ښار د هغې په نوم آباد شوے دے. قاضي صبب په داسې تحقيق کښې ډېر مړنے ؤ. هغۀ يو ځل ما ته دا هم وئيلي وو چې آدم عليه السلام سوچه پښتون ؤ او حوا بي بي خو به پښتو کښې شاعري هم کوله او بل دا چې آدم عليه السلام په باجوړ کښې د اسمان نه راکوز شوے ؤ هلته ئې قبر اوس هم د آدم بابا په نوم مشهور دے. د بدو د شامته ورته ما ووې چې قبر ئې دلته دے نو عرفات ته به ئې روح تلے وي؟

يوه ورځ ئې د کوئټې په رساله ((اولس)) کښې يو مضمون ما ولوستو چې پکښې ئې د سليمان(ع) هغه ملکه سبا د بلوچستان د سبي اوسېدونکې ثابته کړې وه او په تاريخي اسنادو سره ئې دا ثابته کړې وه چې ملکه سبا د سبي وه او دا د سبي ښار د هغې په نوم آباد شوے دے.

يوه ورځ ئې د کوئټې په رساله ((اولس)) کښې يو مضمون ما ولوستو چې پکښې ئې د سليمان(ع) هغه ملکه سبا د بلوچستان د سبي اوسېدونکې ثابته کړې وه او په تاريخي اسنادو سره ئې دا ثابته کړې وه چې ملکه سبا د سبي وه او دا د سبي ښار د هغې په نوم آباد شوے دے.د دغه ملکه سبا په مضمون ما يوه پېروډي وليکله او چې څنګه حوالې او دلائل او اشتقاقات (د ټکونه ټکي ويستل) ئې ليکلي وو هغه شان ما هم وليکل خو هغۀ ملکه سبا د سبي ثابته کړې وه او ما لېلې د لائل پور (موجوده فېصل اباد) ثابته کړې وه. يوه ورځ چې د عبدالله جان مغموم په دکان (خېبر بازار) کښې سره ملاقي شو نو راته ئې ووې مړه دا ته څۀ فضول اړتو پړتو ليکل کوې چرته پوخ او مطلبي علمي او تحقيقي کار ولې نۀ

کوي. ما ورته ووئیل نو زهٔ څهٔ وکړم چې څهٔ علمي او تحقیقي کار ؤ هغه خو د پښتو اکېډمۍ دانشورانو کړے دے، وئیل نهٔ کنه، ګوره دا سې چل دے چې ستا کلي سره خوا کښې دا فلانے کلے دے که نهٔ، ما وې او دے، وئیل ئې دغلته پخوا یو شاعر تېر شوے دے، په هغهٔ کار وکړه، ما وې ښه چې کار پرې وکړم نو څهٔ چل به وشي؟ وئیل ژوندے به شي کنه، ما ورته وئیل قاضي صیب په دغه کلي کښې اوس په موجوده وخت کښې دغه کوم فلانے شاعر چې ژوندے دے زهٔ وایم چې هغه مې مړ کړے او تهٔ راته وائې چې هغه مړ راژوندے کړه، بلکې نور هم داسې ډېر شاعران شته چې زما ورته نیت ښهٔ نهٔ دے خو مجبوري ده حکومت به مې پرې ونیسي چې دا هم بنیادم ؤ حالانکې ما ته پته ده چې هغه څومره بنیادم دے. وئیل ئې ستا علاج نشته، زهٔ دې سمې ته راکاږم او تهٔ ورانې ته زور کوې. ما ورته ووئیل قاضي صیب سمې پسې ما هم کوشش ډېر کړے دے خو د مستند دانشور جوړېدو دپاره چې دکومو لوازماتو بلکې جهالت ضرورت وي هغه په ما کښې نشته.

بیا مې ورته د تحقیق او تاریخ یو څو نمونې وړاندې کړې، یو کتاب داسې ؤ چې پکښې ئې په اووهٔ سوه صفحو کښې دا ثابت کړې وو چې رحمان بابا د خوشحال بابا نه څو کاله کشر ؤ. یو بل سکالر صرف په شپږو سوو صفحو کښې ثابت کړې وو چې د پښتو ټپه په اصل کښې ټپه ده چې ځینې خلق ورته مصرعه هم وائي، دا څومره لوئے انکشاف دے. هغه وخت خو ما ته نور کتابونه یاد نهٔ وو خو بیا وروستو مې پته ولګوله چې په اکېډمۍ کښې نورې هم داسې ډېرې ملغلرې چاپ شوې دي او چاپ کېږي لکه د مثال په توګه د علي خان د پېدائش ورځ د ګل وه که د اتوار او آیا د هغهٔ نور ورونه وو او که نهٔ وو؟ یو دانشور خو دومره خواري کړې ده بلکې په دانشورانه ژبه کښې ئې دومره "زیار کاړلے" دے چې د حمید بابا د ږیرې پته ئې هم لګولې ده چې څومره څومره وه او هغه هم صرف د نهو سوو صفحو په کتاب کښې چې صرف اتهٔ لکه روپۍ پرې لګېدلې دي. یو لک لیکونکي له ورکړے شوې دي او دا باقي د نظرثانۍ، پروف کتو او ایډیټنګ کولو واله له ورکړے شوې دي. خبر اوس اوس ما هم درک وهلے دے یو سړي راته وئیلي دي چې تهٔ کتاب ولیکه په اکېډمۍ چاپ کول ئې زما کار دے خو اوس حېران یم ځکه چې هغهٔ راته دا هم وئیلي دي چې یو خو درنه پکښې "ادب" راننه نهٔ وځي او بل چې حوالې پکښې ډېرې وي د رښتیاوو دروغو غم ئې مهٔ کوه چا چاسره دومره وخت دے چې د حوالو په تصدیق پسې ګرځي.

> یو دانشور خو دومره خواري کړې ده بلکې په دانشورانه ژبه کښې ئې دومره "زیار کاړلے" دے چې د حمید بابا د ږیرې پته ئې هم لګولې ده چې څومره څومره وه.